مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

سرلوڅ مرادزی

۲۰۲۳ / ۰۴ / ۱۱

# د مکالمې ملکه

زما د خوب کوټه د يوې غونډۍ پر سر او پراخه کړکۍ لري.
سهار وختي زه او مرغان له خوبه يوځای پاڅېږو.
زما په کوټه کې لا چوپتيا وي، خو بيرون مرغان په تودو سندرو او يوبل ته په پيغامونو سهار پيلوي.
د بېلابېلو مرغانو په سندرو فضا دومره توده وي چې سړی فکر کوي د ښار د ګڼې ګوڼې په کومه کوڅه کې تېرېږي.
کړکۍ ته مخامخ يو طوطي وزمه مرغه چې زه يې وينم؛ د دنګې ونې پر سر غږ پيلوي او بل مرغه چې لږ ليری او ما ته نه ښکاري د ده په ځواب کې په ورته انداز ځواب وايي. دا سواليه او ځوابيه پيغامونه تر ډېره اوږدېږي، ان تر لمر ختو ادامه مومي. د نورو مرغانو هم يو بل سره ورته حال وي.
ما له ځان سره وويل چې مرغانو کې د مکالمې ملکه، په ځينو ټولنو کې د وګړو ترمنځ له مکالمې پياوړې ده.
په ټولنه کې د وګړو ترمنځ د مکالمې پياوړتيا، ډېرو ستونزو ته د حل لار هواروي!
د ۲۰۲۳ کال د اپريل ۷ مه


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ